

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب نوم : انتخاب(دغزلونو غورچاڼ)

راټولوونکی: عبدالرحمن حبيبي

خپروونکې اداره: الحبيبي خپرنيون(PDF)

ادرس: ټلگرام(الحبيبي خپرنيون)

رابطه: واټساپ(0093786267103)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ته ښایسته یې ته ګلاب یې
ته مې زړه یې ته جناب یې
ښایستونه درنه ځار شه
څو ارلسم د شپې مهتاب یې
ستا په نور نړۍ روښانه
ته ځلاند لکه افتاب یې
ښایستونه درکې پټ دي
د ښایسته حورې نقاب یې
زه د حُسن به دې څه لیکم
ته هر ځای کتاب، کتاب یې
نن خو بل رقم زنګیږې!
نن خو بل رقم خراب یې!
ته اوس دومره نه صبریږې؟
حبیبي دومره بې تاب یې

عبدالرحمن حبیبي
1402/3/13هفته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دستور دی د دنیا خلګ خندا کې خوښې مومي
ډېرې خلګ د نیمې شپې ژړا کې خوښې مومي
یو څوک د ګناهونو په آغوش کې وي خوشحاله
یو څوک د ژوند تلخي کې په تقوا کې خوښې مومي
د زړونو ترجمان د زړو درمان شي یو یو څوک خو
اکثره بیا د زړونو ماتېدا کې خوښې مومي
یو نیم د ملنګۍ لباس کې خوښ وي بې حسابه
یو نیم د ګناه ډول ته په نڅا کې خوښې مومي
بلها خلګ اوس خوښ دي بې شرمي او بې پتي کې
بلها خلګ په شرم، په حیاء کې خوښې مومي
ډېری د بې ننګي په رنځ اخته وي افتخار کړي
ډېرې خلګ د ننګ غیرت ښکلا کې خوښې مومي
د پټې بندګي غبړه کې ژوند ښه وي فتحانه
اکثره نن سبا بیا په ریاء کې خوښې مومي

فتحان حنفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

راشه پر زړه مې د سُرُور وزرې وغوړوه
پر تیاره ژوند مې د خپل نُور وزرې وغوړوه
دا بلال زړه مې د بېلتون پر ګرمو شګو پروت دی
یو ځل پرې ته د خپل حضور وزرې وغوړوه
د یعقوبي سترګو علاج مې یوسفي زلفې دي
پر ړندو سترګو د کافُور وزرې وغوړوه
په مات وجود کې مې دا ستا د جدايۍ څرېکې دي
جلوې د حسن پر رنځور وزرې وغوړوه
نظام تر څو به د فراق د دار پر سر ځړېږي
له خپل وصاله پر منصور وزرې وغوړوه

نظام کندهاری

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

هم ډاکټر او هم عالَم ته ضرورت دی
د هیواد یو ښه خادم ته ضرورت دی

که غازي دی که ساتونکی د دفتر دی
د دې دواړو وه تعلیم ته ضرورت دی

چې مکتب او مدرسه کړې بیا ودانه
ښه استاذ او ښه معلِم ته ضرورت دی

چې د پوهي مرکزونه ښه سمبال کړي
دې لپاره مهتمِم ته ضرورت دی

راپاڅیږئ د غفلت وختونه نه دي
ماتولو د غلیم ته ضرورت دی

له فردو څخه مشهوده د هیواد مو
وَ ساتنی د حریم ته ضرورت دی

مشهود آشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اوس مې تپوس نکوې ولې؟ اخير شوي څه دي
زه دې هېر شوی؟ که یادونه مې اشنا زاړه دي

زما د مورچې زما د پیرې ملګرې وایوره نن
ها کړې ژمنې دې له ماسره په یاد کنهٔ؟ دي

زما د بېوزلې کورنۍ احوال لرې او کنه؟
چې حال یې ښه دی که دلوږې نه نهر ويده دي

غفلت ونکړې مسؤلیت کې دې ورتيا وښيه
د ډېــرو سترګې لارويه! نن وتــا لــره دي

خير که هېر کړی دې وم یاد مِ له دې ورسته ساته
داسې لیکلي مې اشنا د مزار پر لوحه دي

تا مې د وينو د هرڅاڅکې سره کړی خيانت
تا چې اسد حماسه!! صف کې درولي غله دي

اسد حماس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ونیسم زړه پوري انځور دې رانه ورکه یاره!
چې ته! مې ویاد یږې ډېر تر ګل نازکه یاره!

د جدایي ماښام چې راشي لمر ترغرونو واوړې
نفس مې تنګ زړه مې درد یږی باور وکه یاره!

د زړه په باغ کې چې مستا دیاد سیلۍ راتاؤ شي
وران کړې ګلونه.چنارونه.بې درکه یاره!

د غم له درد سره دې زه اوس عادت شوی یمه
د غم له درد څخه دې.نلرم اوس کرکه یاره!

کله ناکله دې بیا غم راباندې دومره بوج شي
چې راته ځای نه راکوي پیراخه ځمکه یاره!

د بیلتانه سیلۍ چې تاؤ دې له اسد حماس شي
لبمه لمبه ایره ایره شې قربانکه یاره!

اسد حماس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خوږې خبرې د زړګرې کوې

یاره چې ته ما ته خبرې کوې

هره خبره دې زما درد کموې

مثالن ته هم جادوګرې کوې

نادرک توې او خفه هم ته یې

وس هم خبرې مرورې کوې

ژوند مُجلا نکړې وَ زړګکه

نو بیا به ته هم لړاوبرې کوې

خُبیبه درد دې انتها نه لرې

ته هم شکرې دردورې کوې

خُبیب ملنګ

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لږ خو صبر وکړه چې اوزګار شمه!
بیا به د دې درستې نړۍ یار شمه!
لا خو مې زخمونو ته پټۍ لګوم
صبر چې دردونو نه قرار شمه!
لا خو زه ګردونو کې لت پت یمه
ګل به شم چې یو ځلې سینګار شمه!
بیا مې د ښکلاوو تماشه کوه
دُر به شم، غاټول شمه، چنار شمه!
زړونه را نه بل چا خفه کړي دي
زه به د خفه زړونو سردار شمه!
دوی د پیشمني په شان لټان وه ټول
اوس به د اسې خوږ لکه افطار شمه!
حبیبي هر څوک چې ځي له ما تختي
وخت به وي د دوی به سخت پکار شمه!

عبدالرحمن حبیبي
1402/2/4دوشنبه
د کوچني اختر څلورمه ورځ



Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په تنها ځان مې ټَټر درته وهلی
دیار درده دیار غمه نور دِ خوښه
ژوند مُتیرپه شوګیرو باندي کړو ګوره
اخ زمادخوبولو سترګو نمه نور دِخوښه
دزړه زخم خو مې هریو ډیرخوږیږي
جوړ زما درد ته ملهمه نور دِ خوښه
بیله تا راته قسم ده ډیره سخته
دَناکامه زندګي په مخه وړمِه نور دِخوښه
دبلتون اثر دي سخت یم دردولی
زړه له واکه وُوتمَه نور دِ خوښه
درا تلو وعدي دي وکړي خو رانغلي
ړنګ خُبیب درپسي مرمه نور دِ خوښه

خبیب ملنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځان کې ورک شم ستا له غمه پنا غواړم
فرېښتؤ غوندي بــيا تا ته ښکلا غواړم
زه د خپل تصوېر ښاېست ته په ژړا يم
د دنيا موده ښاېست ته مې ساه غواړم
څوک د خپلې اندېښنې په سر بدنام شو
چا وېل زه د خــوشحالی نه سزا غواړم
کمترې مې د خپل ژبې کم احساس کړ
نا معقول دی چې له زياتو حياء غواړم
نن د خـدای نه پټ انسان زړه کې ساتمه
چې د خپل ژوند په درون کې نڅا غواړم
نا خبر خدايه خبر مــې له حال نه شي
بيا په ذات کې دي عجيبه پارسا غواړم
دا په ګډؤ ودؤ سر چې دی ''ثمر'' دی
خدای مې يار کړلو له خدايــه دعا غواړم

عزيزالله ثمر ويصال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مینه په پښتو شوه الله نه کېږي
دغه دود دستور خو له ما نه کېږي
نه پالم پښتو که پري دوزخ ته ځم
زه که یم پښتو ته پیدا نه کېږي
نن که په پښتو کې غزل لیکمه
دا زما د ژبې منشا نه کېږي
ما نه که په غم کې خندا نه غواړئ
ما نه هم ښادئ کې نڅا نه کېږي
څوک په شاعری کې زلفؤ او خوړو
چا نه شاعری کې آدا نه کېږي
نه وایې ''ثمر'' بې آدبې ده خو
ژونده له ''ثمر'' هم پارسا نه کېږي

عزیزالله ثمر ویصال

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لکه سپین غر چې په ننتر ښکلې دی
داسې په تا باندې ګودر ښکلی دی
زه په پګړۍ کې ډیر ښاغلی ښکارم
د ستا حجاب لکه اختر ښکلی دی
یو څوک په دې کې حق حیران پاتې دی
دا تور ماښام او که سهر ښکلی دی
کلیسا ستا دنګو برجونو څخه
زما جومات زما ممبر ښکلی دی
کابل کندوز هلمند لوګر ښکلی دی
هم پېښور او ژوب خیبر ښکلی دی
زمونږه کلی زموږ ښار ښکلی دی
زموږ چنار زموږ مازیګر ښکلی دی
دا د ملا مشک عالم وطن دی
د ازره وال محسن لوګر ښکلی دی

محسن ازره وال

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

شول مې د سترګو نه پناه شعرونه

الله دې وبخښي زما شعرونه

حق د ښایست به دې ادا نه کړی شي

که دنیا ولیکي، دنیا شعرونه

چېرته به بې لارې نشئ مه یې لولئ!

زما یاغي باغي ګمراه شعرونه

زه سوداګر د الفتونو یمه

په خلکو ویشمه وړیا شعرونه

نه نه د زړه خوړلو تاب نه لرم

عبیدي نه لولمه ستا شعرونه

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په دار هم زه، په قار هم ته
په کار هم ستا! بېزار هم ته
جنګ هم په ما، مړ کېږم زه
قوت هم ستا، بې کار هم ته
غم هم په ما، ژړېږې ته
معتاد هم زه، خومار هم ته
وژنې ما او خاندې هم ته
بې لارې ته! په لار هم ته
عابد شو تېر، په دې خبر
چې غماز هم ته، یار هم ته

ملا عابد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د اور کميس دی او په تن دی زما
پکې خوشحاله يم وطن دی زما
منګی مات شوی نه دی درز يې تللی
داغ لږ يدلی په لمن دی زما
بس دی همد و مره ضد همد و مره پښتو
کافرې راشه زنکدن دی زما
دا پاتې عمر د اسې نغوا ړمه
لکه دا خه رقم چې نن دی زما
کوڼ بهسودواله زه لږ سپين غږيږم
ځکه خو هر سړی دښمن دی زما

پرويز بهسودوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دخیال نړۍ ته مې اد که راځي
اوښکې بهو ته مې بیا ځکه راځي
زموږ په ژوند کې خنداګانې راتلل
هغه صحنه له نظر ور که راځي
ستاله باوره مې بس زړه ته هروخت
پښیمان تیاله حده کلکه راځي
تا پورې بیا زړه تړل لرې کیسه؟
ستاله نامې نه مې هم کرکه راځي
چې انتخاب کې یوڅوک خپله تها کې
دلته بس هغه جنۍ سپکه راځي
له زندګۍ نه ګیلمن یو سیلۍ؟
هره شــــیبه له درده ډکه راځي

زینب سیلۍ

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ټول وجود مې زخم زخم ویني ویني
ستا غمونه محترم ساتلی نشم
ته تمام عمر ناراضه بې دلیله
زه تمام عمر ماتم ساتلی نشم
لکه څنګه چې دې خوله را بنده کړې
داسې غلی مې قلم ساتلی نشم
زیارتونه، جوماتونه شم ساتلی
خو یو زړه د بنیادم ساتلی نشم
تنهایۍ کې مې له سترګو څاڅي ویني
خو ستا مخکې پکې نم ساتلی نشم
بې وسي مې دومره ډېره ده ناصره
چې نامه دې په خوله هم ساتلی نشم

ناصر حلیمي

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تکیه راکړه خپله ځانه، یو څو ګامه راسره
شهپاتې کېږم له کاروانه، یو څو ګامه راسره شه
تصور د رنځ و غم مې، د ژوند لارې کړې خنډنې
بې درمانه یم درمانه، یو څو ګامه راسره شه
چې خبر دې کړم له کرب او مشقته د وګړیو
ته خو لږ هم تن آسانه، یو څو ګامه راسره شه
چې شو خلاص د وخت له جوره، ای زما د زړګي زوره
راسره وکه مېرانه، یو څو ګامه راسره شه
بل مشال د مینې راوړه، پاتې لارې اندېرې دي
وارخطا یم نِګاهبانه، یو څو ګامه راسره شه
بادشاهان د سلطنت مې، راج په زلفو کول غواړي
ای زما د زړه سلطانه، یو څو ګامه راسره شه
د مجنون او فرهاد مینې، راته ووې شمائلې
په وتو یو له داستانه، یو څو ګامه راسره شه

شمائله سلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ستا د وینې فوارې ته نه رسیږي
شفق دغې منارې ته نه رسیږي

دا پندونه، دا وعظونه بې نوښته
د تکبیر یوې نارې ته نه رسیږي

د تاریخ په مخ د چا د غرور ځلي
د جنډو دې هدیرې ته نه رسیږي

د شهید ګلګون ګریوان د خدای حضور کې
جنتونه یې منظـــرې ته نه رسیږي

په دفتر دې که هم اور بل شي ناګاره!
د میوند یوې مســرې ته نه رسیږي

استاد فضل ولي ناګار

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ځان مې پهٔ سل ژبو رټلی ستا پهٔ لور ولاړ یم
د زندګۍ پهٔ صف کې سخت د زړهٔ پهٔ زور ولاړ یم
پهٔ خپلو تلو دې خند وله زمانه را باندې
دنیا به خپل کار کوي، خپل ځانته پیغور ولاړم
لکه زرینه وړانګه را شه ورته ښکلی یې کړه
پهٔ زړهٔ د ژوند لکه د تور دېګي نسکور ولاړ یم
ورځې د ژوند شوې لکه واورې، زلزلې او توفان
زهٔ پدې منځ کې لکه بې مالکه کور ولاړ یم
موسمه! واوره ما لهٔ پامه د وخت وغورځوه
دود شوم، رژېږمه، د خپل غرور پهٔ اور ولاړ یم
ستا پهٔ وعده به انتظار تر پوزې را ولمه
یو ځای به دلته یمه، څو ځایه به نور ولاړ یم

شاعر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په ګناه چې ورسیږم جنتو ته
عبادات ځله کومه دوزخو ته
په کُفري الفاظو مړې سندرې وایې
لیونی مې دی راوستی لیونو ته
د بې غمه خدای غمونه را په سر دي
نڅا کاندمه د درد سوي نغمو ته
په دینتا ژبه غږیږمه خالقه.
ستا خبرې مې راوړې دې کڼو ته
هسې نه خپله سایه مې تنها پریږدي
کله شاته کله ګورم قدمو ته
بیا حیران حیران ورګورمه اسمان ته
چې د درد احساس مې ورسي مغزو ته
شپه ډاریږي فلاح ستا له تنهایئ نه
د سهار اذان کومه تورو شپو ته

نظام الدین فلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بې له تا هم په خندا یمه ګل مخیه.
د غم ساز ته په نڅا یمه ګل مخیه.
ځان مې هم له ځانه شړي زه حیران یم.
چې د ځان نه یم د چا یمه ګل مخیه.
ژوند برباد دی زه تبا یمه ګل مخیه.
ته بې یاره زه تنها یمه ګل مخیه.
زړه مې زړه ته درنیږدي زړه مې تنګ دی.
ژبه ګونګه ده ساه ساه یمه ګل مخیه.
مخ مې ستا له مخه بل مخ ته هیڅ نه اوړي.
زه مئین په تا رښتیا یمه ګل مخیه .
له مودو نه زه د درد خزان وهلی.
له مودونه په ژړا یمه ګل مخیه.
تراړې شونډې ډکې سترګې فلاح لاړم.
تا شړلی له درګا یمه ګل مخیه.

نظام الدین فلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

راترغاړې شــــو ناکامه محبت
ډک له هـــر رنګه الزامه محبت

سپین مخونه هم بلا له کاره باسي
تور دی ستا رقم مابنامه محبت

شبګیرو مې د مخ رنګ رانه زبنلی
د زړه ویـــنه مې تمامه محبت

بنه نو څنګه یې د هرچا دخندا کړې
تانـــو څه کاوو بدنامه محبت

جارقربان شم له ګرانښته داد کې
کړم په دوه لاسه سلامه محبت

سیلۍ بې له غم او دردنه راته وایه
بنـــه نور څه وو نامرامه محبت

زینب سیلۍ



Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زما زړه باندې مین وو زما ځان ندی ملامت
دا چې درد مې په نصیب شو جانان ندی ملامت
دادنیا ده نفس خواحش دی او شیطان ورسره مل هم
خامخا به خطا کیږي انسان ندی ملامت
مینه زموږ څخه رسوا شوه مینه پټ وه مستوره
جهانیان شوله سپین سترګي جهان ندی ملامت
سر یې ښکته دی غریب دی جیب یې وزن دی کم کړی
ځکه هرڅوک پسې خاندي دا ځوان ندی ملامت
وَلوَر پورته شو وغروته ورختل وختونه نیسي
موږ په خپله ایمان پلورو ایمان ندی ملامت
چې د زړه له جوشه راشي او ښکي پورته شي لیمو ته
اې دلریشه خود لندیږي ګریوان ندی ملامت

دلریش وفادار

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

هره خوا د بل ده پوهې سپین مصباح شي
نوی فکر نوی ژوند دِ افتتاح شي
هسې نه خلک عقدې ته رانه لاړ شي
په فشار نه په دعوت د ټول اصلاح شي
اوس دی وخت د وران وطن د جوړولو
لاس په کار د انجینر، ډاکتر، فلاح شي
دا اولس دی نور بیحده خسته شوی
څه وخت وَ دې تړل هر رنګه سلاح شي
څوک چې کار کړي انسجام او اتحاد ته!
د هغه د په نصیب همه صلاح شي
افغانان ټول د یوې کښتۍ سواره دي
عزیر! وایم تل طالب د یې ملاح شي

احسان الله عزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ګل اندامه ګل بدنه یوسف ذاته
د وجود خوشبو دې ځي د هر اياته
ستا د حسن تلاوت عجيبه خوږ وو
څه اوږده وو د تهجدو دوه رکعاته
بدنامۍ له به سبا څه بانه ګورو
نن ييخي په خود کې نه يم ملاقاته
چې زما د فکر قد راباندې ټيټ وړي
نور به خپل سيوري ته نه ګورمه شا ته
زه د شپې بلا ته ځان په ژړا مړ کړم
او سحر د خندا شين شمه رڼا ته
زندګي لکه بدنامه ډمه ناڅي
ځي زما په غيږ کې سمه شي راماته
د بدنام غزل شاعر درويش روښان وي
د ګل روخ نامه يې وخوده دنيا ته

درويش روښان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ترڅو دا د ژوندګۍ ستړې داستان وي
چلومه به غمونه پلنډي پلنډي
هغه پاته له ټولۍ د پتنګانو
لا به وړي پر ځان اورونه پلنډي پلنډي
ها د ژوند په مقصد پوه ويښ ضميرونه
په سينو کې يې دردونه پلنډي پلنډي
اخ د هري مدرسې زهير انګړ کې
ميرات سوي قلمونه پلنډي پلنډي
پام اميده چې ستړيا محسوسه نکړې
لا دي مخ ته خدمتونه پلنډي پلنډي

محمد نبي اميد

Habibi Media

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

شکستونو اندازه لهٔ خودۍ نه لګوم
ما لېونی ګوره پهٔ زخم پټۍ نه لګوم
خدايزده لهٔ کومو پړاوو مې تيروي لېونتوب
پهٔ يوهٔ ځای باندې تر ډېره کيږدۍ نه لګوم
پهٔ ما کې خپله نه و نور، د بلېدلو ظرفيت
زهٔ چا و چا غوندې تهمت پهٔ سيلۍ نه لګوم
نن چې او ښلنې ستر ګې ورغلم، نو ويې ويل
د مرغلرو پهٔ ځای هار کې مرۍ نه لګوم
پروپاګند دې دلمرمخيو د راتلو خبرې
زهٔ لهٔ غربته د کالهٔ ډيوه ګۍ نه لګوم
د لېونتوب را باندې ختمه ده منم کړاوه
خو د حباب غوندې پهٔ سيند کې ماڼۍ نه لګوم

کړاو منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې پوهېدې هم دومره لوی تاوان دې ولې کاوهٔ؟
ژوند خو دې خپل ؤ، نو د چا پهٔ شان دې ولې کاوهٔ؟

زما د زړهٔ لهٔ بُرجلونو دې ځان وغورځاوهٔ
زما پهٔ مینه دومره بد ګُمان دې ولې کاوهٔ؟

تا خو د عِشق ورانۍ لیدې، زموږ جذبې دې لیدې
د محبت د مرتبو بیان دې ولې کاوهٔ؟

کهٔ زړهٔ دې ښهٔ وای نو ورغوی به دې سوی نهٔ و
کهٔ مېَن نهٔ وای د رنجو دوکان دې ولې کاوهٔ؟

ما د وخت زنې نیوې، پښې نیوې چې پاتې شي لږ
ملا ګونګی شي د سهار اذان دې ولې کاوهٔ

د لور وېښتهٔ یې سمول زما پهٔ حال خفه وه
ویل یې څهٔ ورانه وه؟ زما ارمان دې ولې کاوهٔ؟

شهاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې و ځای د و دریدو هلته روان شوم
لکه خپلې اوښکې توی په خپل ګریوان شوم
ته زما د ذات په خاوره کې زرغون شوې
نرګسې ښایسته زه درته ګلدان شوم
ستا د خولې قسم شوم مات شومه رامات شوم
غزا وشوه نه د ځان نه د جهان شوم
د کم ظرفو د یارۍ ګټه همدا وه
راغلم بیرته په خپل ځان باندې تاوان شوم
ستا د غیږې په خوشبو مې دې قسم وي
د سپرلي په ښایستونو بدګمان شوم
صدقه د عشق له پاکې رسوایۍ شم
د خپل شعر غوندې په هر چا باندې ګران شوم
بې ارزښته زمونږ ساندې شوې اجله!
څه بې درده زمانه کې غزلخوان شوم

اجل احمدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې و ځای د ودرېدو هلته روان شوم
لکه خپلې اوښکې توی، په خپل ګرېوان شوم
ته زما د زات په خاوره کې زرغون شوې
نرګسي ښایسته زه د رته ګلدان شوم
ستا د خولې قسم شوم مات شوم مه را مات شوم
غزا وشوه نه د ځان نه د جهان شوم
د کم ظرفو د یارۍ ګټه همدا وه
را غلم بېرته په خپل ځان باندې تاوان شوم
ستا د غېږې په خوشبو مې دې قسم وي
د سپرلي په ښایستونو بدګمان شوم
صدقه د عشق له پاکې رسوایۍ شم
د خپل شعر غوندې په هر چا باندې ګران شوم
بې ارزښته زمونږ ساندې شوې اجله!
څه بې درده زمانه کې غزلخوان شوم

اجل احمدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

برندې سترګې ګرځه درنه ټيټې چرته نه شي
جار دې له تندي شمه که ګونځې يې اوبه شي
ستا د ګور بڼو په اتفاق ناسته ولاړه
ګورم، زړه کې وايم چې جرګه به پښتانه شي
مونږ څه يوو، خو خاورې يوو د بندو ورانو لارو
تا پسې خو بايد ګلابونه در کاږه شي
ما يوه خبره پټه کړې ده په رمز کې
وخت به د خبرو شي خبره به مې وشي
چرته کې به ستا د تو دې غيږې خوشبو مومي
چرته به سرې د ګل په پاڼو کې ويده شي
څه ناڅه پښتو له مينې ويستي يوو اوربښته
څه مينه سرشاره له پښتو نه په واته شي

مانو اوربښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې ګُلروخ مې د درګاه نه په وتو شو
جنتي خوب مې تعبير د دوزخو شو
ذاهدان د فلسفو يې په نڅا کړل
د مطرب لاس کې رباب په غپيدو شو
چې خپل عقل يې دليل سره په شور شو
پيغمبر غوندې انسان په لړزيدو شو
د رب مينه چا کې چيرته وه سړيه
خو چې سترې په ګناه شو په سجدو شو
ټول ژوندون مې ستا له مخ نه صدقه شو
مات وجود مې درته ياره په رُکوع شو
په ګُناه کې مې خالق د ځان پيدا کړ
په ثواب کې مې ايمان د دوه پيسو شو
چې دې زيرې ورک شمال د مرګي راوړه
غم مې غم سره فلاح په ګډيدو شو

نظام الدين فلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ژوند به وبیلې سړیه بې قیمته
که خبر شوې د اشنا له خوږ صورته

سهار یو ماښام یې بل سره واعده وي
توبه ګار به شې د دوی له صداقته

لاندې باندې مې بې اوره سوزوې ته
نوم دې ورک شه له دنیا نه محبته

د ریا سجدې مې وړې تر دوزخونو
ستړی شوی یم له داسې عبادته

چې دیدار مې د خالق او دلبر نه وي
بې له دویه دې زه څه کوم جـــنته

کله کله زړه ته لار وکړي په سترګه
زه تر ېځار شم د سترګک له شرارته

چې د مینې اذانونه دې شروع کړل
دار قبول کړه د منصور غوندې حضرته

حضرت الله ذهين

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

خوشبويي دې راخپرې له بدنه
چې هفت رنګه خال دې ايښی دی په زنه

تور ليوانان راپسې برګ برګ ځکه ګوري
ده د سپينې هوسۍ لور پر ما مئينه

په مسکا تنکي ګلونه لا ښه ښکاري
د غرور په ځای ناز وکړه کبرجنه

غرونه غرونه ښايستونه پيکه شوي
چې د ژوند مسته سندره د غمجنه

ترخه خوله به مې خوږه شي که تا ښکل کړم
مچۍ شات په خوله کې وړي د ګل له تنه

د غروب سورخي ته ترۍ نظر ناست يم
را يادېږي مې دا ستا اناري ونه

د نفرت په بدل مينه کړم محموده
ما بوسې دې هم اخستې له دښمنه

محمود باقر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بې کوره شي چې څوک په بې درکو پسې ګرځي
درانه خلق سپکېږي چې په سپکو پسې ګرځي

زما د قام د کومې بدبختۍ به درته وایمه
چې څوک را زلمي کیږي په ټوپکو پسې ګرځي

د زرکو د کوټترو ښکار د نورو مشغله شوه
زما د غرونو باز په توت خورو کو پسې ګرځي

بیا څوک د پښتنو د اتفاق سندرې وایي
دیوان یې د خوشحال په لاس خټکو پسې ګرځي

صلاح کوي جرګه کوي غونډېږي تندرونه
څوک جالې جوړوي ځان له په ډکو پسې ګرځي

د هغه غرسنۍ غړۍ مې هغسې په زړه ده
له هغسې مې فکر په کُنجکو پسې ګرځي

د ښکلو په سینو کښې بې غرضه زړونه ګوري
صابر بلا وهلی دی په ورکو پسې کرځي

صاحب شاه صابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

یو دم به ګران په ټول جهان شي چې پیسه پیدا کړي

بیا به د هر سړي جانان شي چې پیسه پیدا کړي

ورپسې زړه مه خوره د وخت ځامن همداسي وي تل

ته به له ځانه هم پرې ګران شي چې پیسه پیدا کړي

که ته جانان یاران دوستان غواړې چکرې غواړې

هله پوره به دې ارمان شي چې پیسه پیدا کړي

کم اصل خلک تل مدام د تلې وزن ګوري

دوی به هم ستا د ځنګ یاران شي چې پیسه پیدا کړي

نظیر صادقه ستا یاران او خپلوان ټول به درشي

ټول به په یو دوه کې حیران شي چې پیسه پیدا کړي

نظیر صادق

Habibi Media

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**